# کلیدی معلومات

## په پښتو کښی




## لومړی پوښتنه: د کډوال, پناه غوښتونکی او مهاجر تر مینځ توپیر څه دی؟

"کډوال", "پناه غوښتونکی" او "مهاجر" داسی لغتونه دی چه اشاره ي هغه چا ته ده چه د مسافرت په حالت کښی وی, خپل هیوادونه یی پریښودی وی او د پولو نه اوښتی وی.
"مهاجر" او "کډوال" داسی لغتونه دی چه اکثر د یوی معنا لپاره کارول کیږی خو دا ډیره مهمه ده چه د دوی تر مینځ توپیر ښکاره شی ځکه چه په قانونی نظر دا توپیر لری.

## کډوال چا ته وئیل کیږی؟

کډوال هغه چا ته ویل کیږی چا چه خپل هیواد په دی علت پریښودی وی چه دوی د جدی بشری حقونو د تیر وتنی او د زور زیاتی د خطر سره مخ وی. د دوی امنیت او ژوند ته دومره ستر خطر وی چه دوی دا احساس لری چه دوی سره نور هیڅ چاره پاتي نه ده غیر له دی چه لاړ شی او د خپل هیواد نه بهر امنیت بیا مومی ځکه چه د دوی خپل دولت د هغو خطرو نه دوی په حفاظت کښی نشی ساتلی او نه به اوساتی. کډوال د نړیوالی ژغورنی حق لری.

## پناه غوښتونکی چا ته وئیل کیږی؟

پناه غوښتونکی هغه څوک دی چا چه خپل هیواد پریښودی وی او په بل هیواد کښی د زور زیاتی او جدی انسانی حقونو د تیروتنی له عمله د ژغورنی په تلاش کښی وی, خو لا تر اوسه د کډوال په حیث قبول شوی نه وی او د پناه غوښتنی د

جواب په انتظار کښی وی. پناه غوښتل انسانی حق دی. دا په دی معنا ده چه هر څوک کولی شی چه بل هیواد ته د پناه تر لاسه کولو لپاره ننوځی.

## مهاجر چا ته وئیل کیږی؟

د مهاجر هیڅ نړیوال قانونی تعریف نشته. د نورو ادارو او تنظیمونو په رنګ, نړیواله عفوه د مها جر داسی تعریف کوی چه مهاجر هغو خلکو ته ویل کیږی چه د خپل هیواد نه بهر ژوند کوی او دوی نه د کډوال او نه د پناه غوښتونکی حیثیت لری.
د مثال په توګه ځیني مهاجر د روزګار, زده کړی یا د خپلی کورنی سره یو ځاي کیدو له کبله خپل هیواد پریږدی.ځیني د غریبی, سیاسی ګډوډی, ټولګنیز تاو تریخوالی, قدرتی آفتونو او یا بیا نور داسی ناوړه شرایطو له عمله په خپل هیواد پریښودو مجبوریږی.
زیات خلک د کډوال قانونی تعریف په چوکاټ کښی پوره نه راځی او خپل هیواد په بیرته ستنیدو د خطر سره نه مخ کیږی.
په دی پوهیدل مهم دی چه مهاجر د نا انصافی او زور زیاتی له عمله تیښته نه کوی خو بیا هم دوی د بشری حقونو او دوی ته د احترام حق لرونکی دي, وړیا له دی چه تللي هیواد کښی څه ډول قانونی حیثیت لری. دولتونه باید مهاجر د هر ډول نسلی, پردی ویرونکی زور زیاتی, سو استفاده او په زور خواری کولو نه په حفاظت کښی اوساتی. مهاجر باید د قانون وړیا بندی یا خپلو هیوادو ته په زور ستانه نشی.



## دویمه پښتنه: د مهاجرو او کډوالو شمیره ولی زیاته ده؟

په نړی کښی د تیر وخت په مناسبت نن ورځ د کډوالو شمیره زیاته ده. خوا او شا شپږ ویشت (۲۶) ملیونو خلکو د جنګ, ظلم,زور زیاتی او د انسانی حقونو د تیر وتنی له کبله خپل هیوادونه پریښودی. دا شمیرده د چین د شنګایی د ښار د ټولو وګړو نه زیاته ده, کوم چه د نړۍ د ټولو دریم (۳) ستر ښار دی.
د ملګرو ملتونو د کډوالو اداری د تازه راپور مطابق د نهه اویا اعشاریه پینځه (۷۹.۶) ملیونو نه زیات خلک د خپلو کورو څخه ویستل شوی. د بی ځایه شوی خلکو شمیره په تیر ځل د دویم نړیوال جنګ په مهال لوړه ختلی وه کله چه شپیته (۶۰) ملیونه خلک بی ځایه شو. نن ورځ د پناه غوښتونکو او کډوالو بی ځایه شوی خلکو شمیره څلور اعشاریه دوه (۴,۲) ملیون

ده او پینځه څلویښت اعشاریه اوه (۴۵,۷) ملیونه خلک د زور زیاتی, ناوړی شرایطو یا قدرتی آفتونو له عمله په خپلو هیوادو کښی دننه بی ځایه شوی.
هر کال ملګری ملتونه او د نړۍ خلک د جون د میاشتی په شلمه (۲۰) نیټه د کډوالو سره د غمرازۍ په لړ د کډوالی نړیواله ورځ لمانځی.
د سوریا داخلی جنګ په اوسنی وختونو کښی د کډوالو د ټولو ستر بحران را مینځ ته کړی. د وینیزویلا اقتصادی سقوط په غټه کچه خلک بی ځایه کړی.په تیرو څو کلونو کښی په سهیلی سوډان, میانمار او د کانګو جمهوری دولت کښی له تاو تریخوالی له کبله په ملیونونه خلک په بی ځایه کیدو مجبوره کړی. له تیرو لسیزو راهیڅی په افغانستان او صومالیه کښی کډواله بی ځایه کیدل او انسانی اړتیا دوام لری.
په لا ندینیو هیوادونو کښی د زور زیاتی له عمله د خلکو زیاته شمیره د هیواد دننه یا بهر بی ځایه شوی.
> عراق: خوا او شا دوه اعشاریه څلور (۲,۴) ملیونه عراقیان بی ځایه شوی. په عراق کښی د سوریا دوه سوه پنځوس زره (۲۵۰,۰۰۰) کډوال میشت دی.
> د افریقی مرکزی جمهوریت: د زور یاتی له کبله خوا او شا پینځه سوه دری نوی زره (۵۹۳۰۰۰) د هیواد نه بهر تللی او خوا او شا شپیته لاکه (۶۰,۰۰۰) خلک د هیواد دننه بی ځایه شوی.
> مرکزی امریکا: د زور زیاتی او تاو تریخوالی له عمله په تیرو پینځو (۵) کلونو کښی د بی ځایه شویوخلکو په شمیره لس چنده زیاتوالی راغلی. په دغو کلونو کښی په ګواتیمالا, هندوراس او ایل سالوادور کښی د جنایتی ټولګیو له اړخه د زور زیاتی لیکه لوړه شوی.



دریمه پښتنه: آیا کډوال ځانګړی حیثیت لری؟ د دوی قانونی ژغورنه څه ده؟

د خلکو د قانونی حیثیت په بنسټ د دوی په حقونو کښی د لید وړ توپیر شتون لری. د کډوال حیثیت تر لاسه کول یو انفرادی عمل دی چه څو میاشتی یا زیات وخت نیولی شی. دا د هیواد او د پناه غوښتونکی د وضیعت سره تړون لری. لکه څه ډول چه کډوال حیثیت د پراخو حقونو وړ گرځی او ورسره نور مرستنیز گامونه پورته کیږی (چه پکښی د ژبی زده کړه شامله ده), بل اړخ ته نوم لیک شوی پناه غوښتونکی یا هغه خلک چه تر اوسه یی د پناه غوښتنه نه وی کړی, کیدی شی چه د لاندینیو بندیزونو سره مخ وی:

> دوی د ښه راغلاست مرکز د بریدو پوری محدود وی

> دوی نشی کولی چه د محل یاښار والی نه بهر سفر اوکړی

> د کار کولو اجازه او نه لری

بیا هم وړیا له قانونی حیثیت, هر سړی د اساسی حقونو وړ دی چه پکښی د اوسیدلو ځایی, خوړنه, روغتیا او د اولادونو زده کړی شاملی دی.

ایالتونه د سلگونو کلونو راهیسی یو کس یا بیا ټولگیو ته پناه ورکوی چه د زور زیاتی او نا انصافی له عمله بی ځایه کیږی. خو د کډوالی نوی بحران په غټه کچه د شلمی سلیزی د اخیرنی نیمه ایزی را په دیخوا مینځ ته راغلی. د نړیوال بشری حقونو د قانون په څیر, د کډوالی نوی قانون د لومړی نړیوال جنگ او له هغې وروسته کلونو کښې د داخلی جنگونو له عمله د کډوالی بحران مینځ ته د راتگ په وخت جوړ شوی.د بشری حقونو د نړیوالی اعلانیی چه په کال نولس سوه اته څلویښت (۱۹۴۸) کښی تاید شوی, د څوارلسمی(یوی) (۱۴(۱)) مادی لاندی په نورو هیوادو کښی د پناه غوښتلو او اخستلو حق خوندی ساتی. له هغې وروسته د انسانی حقونو محلی قوانینو د "د دولت او نړیوال قوانینو په رڼرا کښی په پردی هیواد کښی د پناه غوښتلو او ا خستلو حق" په خوندیتوب کښی مرسته کړی, د مثال په توگه د امریکا د انسانی حقونو د قانون دوه ویشتمه دریمه (۲۲(۳)) ماده, د افریقا (بنجول) بشری او خلکو د حقونو د قانون دولسمه دریمه (۱۲(۳)) ماده.

د کال نولس سوه یو پنځوس (۱۹۵۱) د کډوالی د حیثیت کنوینشن او د کال نولس سوه اوه شپیته (۱۹۶۷) د کډوالی د حیثیت اختیاری پروتوکول د کډوالی د قانون څارنه کوی. دا ۱۹۵۱ کنوینشن (قانون) د کډوال تعریف , د کډوالی د حیثیت ورکولو عمل او د کډوالو د حقونه تثبیتوی. یو اړخ ته که د کال ۱۹۵۱ کنوینشن د کډوال تعریف معتبر شمارل کیږی, بیا هم د انسانی حقونو محلی تړونونو د کډوال په تعریف کښی بدلون مینځ ته راوړی ولی چه د کال ۱۹۵۱ په کنوینشن کښی د بی ځایه کیدو واضح تعریف شتون نه لری.

د کال ۱۹۵۱ کنوینشن په واضحه توگه دا تعریف نه کوی چه ملگری ایا لتونه په څه ډول دا پریکړه اوکړی چه یو څوک د کډوالی په تعریف پوره اوسی. د دی په ځایی د پناه غوښتلو د کړنلاری او د کډوال حیثیت ورکول مسولیت د هر ملگری ایالت په غاړه دی. په نتیجه کښی بیلا بیل ایالتونه د پناه د قانون په جوړولو کښی د یو بل سره توپیر لری او د هر ایالت د بیلا بیلو منابعو, د ملی امنیت حساسیت او د زورتیا په بنسټ د مهاجرو د تگ راتگ سره تړون لری. په ملی او محلی سطح د توپیر د شتون والی سره په څنگ د اوسنی کډوالی د قانون تر ټولو ستر هدف دا دی چه انفرادی خلکو ته پناه ورکړی څوک چه د خپل هیواد نه په تیښتی مجبوره شوی او د دوی هیوادونه نشی کولی یا نه غواړی چه د دوی ژغورنه اوکړی.

## قانونی ژغورنی

د کډوالو سره تړلی نړیوال او محلی قانونونه:

د کډوالو سره تړلی نړیوال او محلی قانونونه:

> د کډوالو د هویت (حیثیت) د کال ۱۹۵۱ کنوینشن

> د کډوالو د هویت (حیثیت) د کال ۱۹۶۷ اختیاری پروتوکول

> د انسانی حقونو نړیواله اعلانیه

> د سړی د حقونو او مسولیتونو د امریکا اعلانیه

> د امریکا د بشری حقونو کنوینشن

> په مرکزی امریکا, میکسیکو, پانامه کښی د کډوالو د نړیوالی ژغورنی جرگه, د کډوالو د کارتاګینا اعلانیه
> د افریقا (بنجول) د بشری او خلکو د حقونو چارتر
> او ای یو په افریقا کښی د کډوالو د ستونزی د ځانګړی اړخونو اداره کولو کنوینشن
> د بشری حقونو د عرب چارټر
> په اسلام کښی د بشری حقونو د قاهری اعلانیه
> د بشری حقونو اروپایی کنوینشن
> د فروری د میاشتی د اتلسمی نیټی کال دوه زره دری (۱۸ فروری ۲۰۰۳) د ۳۴۳/۲۰۳ د شوری قانون چه پکښی په یو غړی هیواد کښی د دریمو هیوادونو د وګړو له اړخه د پناه غو ښتنی, د څیړنی لپاره شرایط او میکانیزم مینځ ته راوړلو مسولیت د غړی هیواد په غاړه د اینودو طرح بیان شوی.
> د ۲۹ اپریل ۲۰۰۴ د شوری قانون ۲۰۰۴/۸۳/ای سی چه پکښی د دریمو هیوادونو وګړو یا بی هیوادو د کډوالی هویت وړ ګرځیدلو یا هغه خلک چه نړیوالی ژغورنی ته اړتیا لری او د ژغورنی محتویات پکښی طرح شوی.د
> د ځپل او نور ظالم, غیر انسانی یا بی احترامئ یا سزا خلاف قانون
> په افریقا د افریقا دننه د بی ځایه شویو د مرستی او ژغورنی د افریقا د اتحاد قانون
> د کچنیانو د حقونو قانون



## څلورمه پښتنه: کوم تنظیمونه د مهاجرو/کډوالو مرسته کولی شی؟

له ښه مرغه د کډوالو ګټی لټول د بیلا بیلو غمخوارو تنظیمونو مهمه موضوع ده. مونږ په دی نوملړ د کډوالو سره مرسته کونکی ټول تنظیمونه نه دی شامل کړی. مونږ د هغو تنظیمونو کارونه مهم ګڼړل تاییدو چه نومونه یی په دی نوملړ کښی شامل نه دی.

**سنرایز امریکا Sunrise USA**

سنرایز امریکا د دو سوریایی امریکایانو له خوا په کال ۲۰۱۱ کښې جوړه شوی تنظیم دی او په امریکا کښې د لوړ پوړو تنظیمونو څخه یو تنظیم دی چه د سوریا دننه او خوا او شا کښې د سوریانو سره بشری مرستې مخ ته بیایی.

**کرم بنسټ Karam Foundation**

دا یو بې ګټه تنظیم دی چه د سوریا د روښان راتلونکی د آبادولو په نښه کار کوی. د سوریایی ځوانانو د تخلیقی زده کړو د برنامو جوړول, سوریایی کورنیو سره هوښیاره مرسته کول او د سوریانو له اړخه د سوریانو لپاره تلپاتی پرمخ تللی پروژی پانګول مخ ته بیایی.

**اسلامی مرسته Islamic Releif**

د عقیدی په بنسټ د بشریت او پر مختګ تنظیم په حیث اسلامک ریلیف د تیر ۳۲ کلو راهیسی بشری خدمت وړاندی بیایی. د نړیٔ د ۴۰ نه زیات هیوادونو کښې په عملی توګه شتون لری او په فقر کښی د ۳ بیلیونو ژوند کولو انسانانو چه پکښی یو شمیر کډوال هم شامل دی ,لپاره نړیٔ یو ښه او د عادله ځاي جوړلو هسه کوی.

**عمل وسلام پروژه Project Amal Ou Salam**

د دوی نوم د امید او امن معنا لری. دا د لاندی سطحی تنظیم دی چه د سوریا د کچنیانو چه پکښی کډوال هم شامل دی, د دوی د هیواد د بیا رغونی او د صلح لپاره د کار کولو کښی مرسته کوی.

**نړیوال کډوال Refugees International**

دوی د بی ځایه شوی خلکو د مرستی او د ژوند د خوندی ساتلو د ژغورنی سره څنګ د بی ځایه کیدو د بحران د حل لپاره د لارو لټولو وکالت کوی. دوی په سترو ستونزو رڼرا اچوی او په لوړه سطح قانون جوړونکو ته مشوری ورکوی څوک چه د دغو ستونزو د حل د تګ لاری طر ح جوړولو کښی مرسته کوی.

**د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره UNHCR**

ملګری ملتونه د هغو تنظیمونو څخه دی چه د تیر ۶۵ کلونو نه زیات وخت راهیسی د کډوالو سره مرسته کوی. د ملګرو ملتونو د کډوالو لپاره ستر کمیسیون په ټوله نړیٔ کښی د کډوالو د ښه ژوند او حقونو د ژغورنی لپاره کار کوی.

**آیی آر سی IRC**

د ژغورنی نړیوال کمیسیون د هغو خلکو سره مرسته کوی چه د هغوی ژوند او اموال د جنګ او قدرتی آفتونو له عمله ویجاړ شوی وی او دوی د ژوندی پاتی کیدو, بیا رغیدو او د خپل راتلونکی واګی په خپل لاس کښی د اخستلو هسی کوی.

**اورام ORAM**

د اورام هدف دا دی چه نړیواله ټولنه سترو ناتوانو کډوالو د ژغورنی جوګه اوګرځوی. تر دی پایی د دوی قصد په نړیواله کچه د هنرمندو کډوالو له پاره تخلیقی اوزار, د نوی تیکنولوژی مرستتیز څیرنی او د تجربی له عمله نتیجو ته رسیدلو د برنامو له لاری مرسته کول دی.

**نړیواله مرسته World Relief**

**Refugee One**

د عقیدی په بنسټ د دی تنظیم هدف دا دی چه محلی کلیسا وتوانوی چه د کمزورو خلکو لکه د کډوالو خدمت اوکړی.

**هیاس HIAS**

دوی زیات کمزوری کډوال ژغوری او په آزادیٔ او امن سره د دوی د نوی ژوند بیا رغونی او د دوی د کورنیو سره دوی یو ځایی کولو کښی مرسته کوی. د دوی بل هدف د کډوالو د ژغورنی وکالت او د بی ځایه شویو سره په احترام د چلند باوری کول دی چه دوی یی حق لری.

**Save the Children**

سیو د چیلډرن زمونږ د راتلونکی او د بحرانی وضعیت په مهال هره ورځ په ماشومتوب کښی پانګونه کوی. په متحده ایالاتو او په توله نړیٔ کښی دوی کچنیانو ته یو روغتیایز پایل, د زده کړی موقعه ورکوی او دوی د زیان رسیدو نه په حفاظت کښی ساتی.

## آساف ASSAF

د آساف بنسټ په کال ۲۰۰۷ کښی د کډوالو او پناه غوښتونکو د مرستی لپاره په اسرائیل کښی اینودی شوی وو. په عبرانی ژبه کښی د ""آساف" معنا د کډوالو د مرستی تنظیم دی. د دوی هدف د کډوالو د دولت د ادارو سره د مخ په مخ راتګ په مهال د کډوالو د ژغورنه خوندیتوب دی.

## VluchtelingenWerk

د یو هولاندی تنظیم دی کوم چه د کډوالو سره مرستی کوی. ولوختیلینګین ورک نیدرلانډ په هولاند کښی د کډوالو او پناه غوښتونکو هولانډ ته راتګ د وخت نه تر د دوی د هولانډ په ټولنه کښی په کامله توګه مدغم کیدو د دوی د ګټو ساتنه کوی.

## کیر CARE

دوی په نړیوال غورځنګ کښی لوړ پوړه دی او هدف یی د ژوند ساتل او فقر د مینځ نه وړل دی.

## بی پولی طبیبان Doctors Without Borders (Medecins Sans Frontieres)

د دوی هدف په نړیواله کچه هغه خلکو سره مرسته کول دی چه ډیره اړتیا لری. دوی جنګ ځپلو, وبا وهلو, د آفتونو ښکار او په درملنی کښی نه شامل شویو ته په اژانسی ډول روغتیایی مرسته رسوی.

## ورلډ وژن World Vision

د عقیدی په بنسټ دا تنظیم د کچنیانو, کورنیو او د دوی د ټولنو په ګډون او د دوی د ټول توان په مرسته د فقر او نا انصافی خلاف هلي ځلي کوی.

## World Help

دوی عیسوی بشری تنظیم دی او په نړیواله کچه په غریبو ټولنو کښی میشت خلکو بدنی او روحانی خدمت کول د دوی هدف دی.

## Concerns Worldwide

یو نړیوال بشری تنظیم دی چه د فقر د لری کیدو ا نړیَ په غریبو هیوادونو کښی د استونزو په ضد هڅی کوی.

## مرسی کورپ Mercy Corps

یو نړیوال لوړ پوړی تنظیم دی چه په دی باور لری چه یوه ښه نړیَ ممکنه ده. په بربادی او سختو وختونو کښی د نړیَ د ۴۰ هیوادونو نه زیات دوی د ګډون په لار د حل زړه وری لاری عملی کوی او هم داسی د خلکو سره مرسته کوی چه دوی په خپله تکړه ټولنی جوړی کړی. د اوس او راتلونکی لپاره.

## د امریکا د زکات بنسټ Zakat Foundation of America

یو نړیوال خیراتی تنظیم چه شته من او درد مند خلک هغه چا ته په رسولو کښی مرسته کوی چه مرستی ته اړتیا لری. د دوی هدف د ضروری اړتیاوو پوره کول او سره د دی د زکات او د د شته منو مسلمانانو د ډالرو او او د نورو سخی خیرات ورکونکو د صدقو په مرسته د نړیَ د ټولو نه غریب خلک په خپلو پخو اودرول دی.

## ژوند Life

د مرستی او پر مختګ لپاره ژوند یو بی ګټی بشری خیراتی تنظیم دی چه د کال ۱۹۹۱ د خلیج د جنګ نه وروسته په کال ۱۹۹۲ کښی مسلکی عربی امریکایانو د بشری بحران په جواب کښی په عراق کښی جوړ کړی.

## نړیوال روغتیایی سرتیری International Medical Corps

دوی هر وخت او هر ځایی په هر ډول وضعیت کښی د ژوندی ساتلو درملنه او د روغتیا سره تړلی اژانسی خدمتونه- معمولا په څو ساعتونو کښی دننه هر هغه چا ته رسوی چه چټکه اړتیاوی لری.




## پینځمه پښتنه: آیا مهاجر او کډوال د ځایی خلکو د روزګار ځایونه نیسی؟

د او ای سی ډی (OECD)د راپور په بنسټ په تیرو لسو کالو کښی د کاریګرو شمیره په امریکا کښی په سلو کښی ۴۷% او په اروپا کښی پو سلو کښی ۷۰% لوړه ختلی. مهاجر معمولا هغه کارونه کوی چه نور خلق ي کول نه خوښوی او هم دا رنګ د خواری په بازار کښی تش ځایونه پوره کوی.په زیاتو پر مخ تللی هیوادونو کښی په ټولو پړاونو کښی د خپلو هنرونو له لاری دوی د ځاېی کاریګرو مقابله نه کوی بلکه د دوی سره اوږه په اوږه هغه ځایونه نیسی چیرته چه اړتیا شتون لری. آخیر او د یاد وړ, مهاجر سوداګر د کار په ځایونو پیدا کولو کښی مرسته کوی. بی کاری یو غټه استونزه ده چه د مهاجرو او کډوالو د راتګ نه وړاندی شتون لری خو بیا هم ځینی سیاست کونکی د مالی تګلاری او بنسټیز استونزو نه د پام بل خوا ګرځولو له پاره په مهاجرو او کډوالو تور لګول یوه آسانه لاره بیا مومی.په هر حال کښی که دوی کار لری او که بی کاره وی, دولتونه د نړیوالو بشری حقونو او د کډوالو د قانون د سیوری لاندی د مهاجرو (که قانونی وی او که غیر قانونی) او کډوالو د ژغورنی د حقونو د خوندیتوب مسولیتونه لری.

